مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۳/۱۱

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

دوه سومه پرله پسې برخه
تصحیحات:
ډاکټر لودویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

* **سلطان حاجي ولي**: ۵۴ ــ ۳۶، ۴۹ ــ ۶۶ (ن): دا د بلخ د شمال لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلی کې او کلفت ته د تللي لارې له سره یو مایل لیرې یو کلی دی. په دې نامهٔ بل ځای یو مایل وړاندې شمال لور ته دی.
سمِ کوش خیل: ــ ۳۵، ــ ۶۷ : دا په سیغان کې یو کوچنی کلی دی چې د تاجیکانو ۱۲ کورنۍ په کې استوګنې دي. (ای. بي. سي.)
صرف علي: ــ ۳۵، ــ ۶۴ : دا د میمنې په علاقه دارۍ المار کې یو کلی دی چې د الا چه وزبیکانو ۳۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. (ای. بي. سي.)
سرخ دِه: دِهٔ سرخ: ـ ۳۵، ــ ۶۷ : دا د سرپل په علاقه داري استراب کې یو کلی دی چې د تاجیکانو ۸۰ کورنۍ په کې ژوند کوي. افغان ګزیتر *دا ځای په همدې نامهٔ د قطعهٔ علمیردان د سویل لویدیځ په ۱۴ مایلی کې په ۳۶ ــ ۳۵، ۳۱ ــ ۶۷ کې ثبت کړی دی.*
* **سرخ**: ۵۳ ــ ۳۶، ۹ ــ ۶۶ (ن): دا شبرغان ته تللي لارې ته نیږدې د آقچې د سویل په تقریباً ۵ مایلی کې یو کلی دی.
سرخاب: ۱۸ ــ ۳۵، ۶ ــ ۶۸ (ن): دا د کهمرد، سیغان او بامیانو د سیندونو له یو ځای کې څخه جوړ یو ستر سیند دی. دا سیند د خپلې بهیدا په کوزنې بهیر کې د آق سرای او هم د کندز د سیند په نامهٔ شهرت لري. دا سیند په لومړي ټوک کې په بشپړ ډول تشریح سوی دی. *په دې نامهٔ یو کلی د میمنې د سویل په تقریباً ۱۸ مایلی کې په ۱۶ ــ ۳۵، ۴۶ ــ ۶۴ (ج) کې موقعیت لري.*
سرخاب: وګورئ: کاریز
سرخابي: دا د «قلعه هزاره ګانو[1]» (وګورئ: دریم ټوک) یوه څانګه ده چې څو کورنۍ ئې د میمنې په ولسوالۍ کې استوګنې دي. (ای. بي. سي.) په *دې نامهٔ کلی د میمنې د لویدیځ په تقریباً ۳ مایلی کې په ۵۵ ــ ۳۵، ۴۳ ــ ۶۴ (ج) کې واقع دی.*
سرخک: ۱۴ ــ ۳۶، ۵۴ ــ ۶۵ (ن): دا د سرپل سیند ته نیږدې په همدې نامهٔ ښارګوټي د شمال په تقریباً ۲ مایلی کې یو کلی دی. دې کلي کې د وزبیکانو ۴۰ کورنۍ ژوند کوي. (ای. بي. سي.)

[1] - Kala Hazaras

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سرخک: ۳۴ ــ ۳۵، ۴۸ ــ ۶۷: دا یو آسانه کوتل دی چې د کابل ــ مزارشریف سړک ورځخه تیریږي. دا کوتل د روی د شمال ختیځ په ۱ مایلی کې دی.
* **سرخک بولاق**: ۲۳ ــ ۳۵، ۴۰ ــ ۶۶ (ن): دا د «للندُر» د لویدیځ په تقریباً ۲ مایلی کې په درهٔ غولي کې یو کلی دی.
* **سرخک دِه**: ۳۶ ــ ۳۵، ۳ ــ ۶۷ (ن): دا د «رشیک» د تنگي له پاسه، د بندِ امیر درې ته د تللي فرعي لارې په اوږدو کې یو ځای دی.
سرخ دِه: ۳۶ ــ ۳۵، ۳ ــ ۶۷ (ن): دا د «دریای بند امیر» د یوې ځانگې پر غاړه د «زُره[2]» د لویدیځ په تقریباً ۳ مایلی کې یو کلی دی.
* **سرخ گنبد**: ۵۸ ــ ۳۶، ۵۴ ــ ۶۶ (ن): دا د بلخ په شمال کې او د دولت آباد د ختیځ ــ سویل ختیځ په تقریباً ۶ مایلی کې یو کلی دی.
* **سرخ جوی**: ۳۹ ــ ۳۵، ۱۲ ــ ۶۷ (ن): دا د «دریای دایمیرداد» پرغاړه د «کوبي» د شمال په تقریباً ۱ مایلی کې یو کلی دی.
سرخ قلعه: لوړوالی: ۷۲۷۴ فیټه. دا د «دو آب» په ولسوالی کې یو کلی دی چې د «بد قاق» په درې کې په همدې نامهٔ کوتل ځخه ۲/۱ ۱۴ مایله کښته واقع دی. دلته د تاتارانو ۳۰ کورنۍ استوگنې دي. (صاحبداد خان) *اوسنۍ نقشې په دې نامهٔ کلی د سرخ شهر په شمال ختیځ کې په ۳۲ ــ ۳۵، ۵۸ ــ ۶۷ (ن) کې واقع دی.*
سرخ کمر: ــ ۳۵، ــ ۶۴: دا د بندِ تورکستان پر سر یو کوتل دی. " له بندر ځخه تر میمنې پورې تر ټولو ښه لاره داسې بریښي چې د «تاو گک» د کوتل له لارې وي (پرته له هغهٔ سرخ کمر یا کپته چشمه ده.) (په بندر کې) له قشلاق ځخه دا لاره له ختیځه مخ پر شمال د ۲/۱ ۷ مایلو لپاره تللې ده اوبیا په شمال کې «قرنگل» ته د غرونو له پاسه تللې ده چې ۶ مایله نوره لاره ده. ویل کیږي چې دا یوه ښه لاره ده او له همدې لارې ول چې زموږ کچرې میمنې ته لاړلې. (هیرا سینگهـ)
* **سرخ خان آباد**: ۵۰ ــ ۳۶، ۴ ــ ۶۶ (ن): دا شبرغان ته د لارې په اوږدو کې د آقچې د سویل لویدیځ په نیږدې ۷ مایلی کې یو کلی دی.
سرخ کوتل: ــ ۳۵، ــ ۶۷: دا یو کوتل دی چې د کابل ــ مزارشریف عمومي لاره ورځخه تیریږي، دا کوتل د قره کوتل د کښته کیدلو د لارې له بیخ ځخه چې شمال ته ځي ۳ مایله لیرې واقع دی. د «اوچي تاش» د تنگي د کمپ له سیمې ځخه عمومي لاره تر لنډ واټن پورې د درې په اوږدو کې ځي او بیا کینې لور ته پر یوهٔ مهمیز، سرخ کوتل ته ورخیږي چې د ختلو د ستوغوالي سختي ئـې ۱ په ۱۰ کې، لوړوالی ۴۰۰ فیټه په ۴/۳ مایل کې ده. له کوتله کښته کیدل په لومړیو کې د ختلو په پرتلې ډیر سخت او سرځوړي دي او له وروستي کمپ ځخه د «پشیکس[3]» درې ته په ۴/۱ ۴ مایل کې رسیږي. دلته عمومي لاره کوتل ته پر یوهٔ مهمیز ورخیږي، یوه بله لاره کښته درې ته د «پشیکس» تنگي ته تللې او بیا د «رفک[4]» د کوتل له سره بیرته راځي او له عمومي لارې سره یو ځای کیږي او همدلته عمومي لاره پر تنگي، اوږدې ژورې درې ورننوځي. د «رفک کوتل» په ندرت سره د اوښانو د تگ لپاره عملي بلل کیږي. (اې. بي. سي.)
سرخ رو: ــ ۳۵ ، ـ۶۷: دا په سیغان کې یو کلی دی. دلته د تاجیکانو ۲۰ کورونه دي. (اې. بي. سي.)
شهر سرخ: ۲۴ ــ ۳۵، ۴۲ ــ ۶۷ (ج): دا په سیغانو کې یو کوچنی کلی دی. دلته د تاجیکانو ۱۲ کورونه دي. (اې. بي. سي.)
سرخ شک: دا په سیغانو کې یو کلی دی. دلته د هزاره گانو ۱۰ کورونه دي.
* **تابه کنده**: ۸ ــ ۳۶، ۲۲ ــ ۶۷ (ن): دا د «اورلمش» د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۵ مایلی کې یو کلی دی.
* **تگاب شان**: ۴۰ ــ ۳۵، ۸ ــ ۶۵ (ن): دا د «دریای خواجه غار» پر غاړه د «جرقلعه» له سویل ځخه تقریباً ۱ مایل لیرې یو کلی دی.
تگاو: تگاب: هغه نومونه چې د تگاو په لغت پیل کیږي وروسته یو فارسي اضافت راځي چې د دوهم نوم ځرگندونه وربانديې وسي.
تغائي خواجه سفلی: ۵۸ ــ ۳۵، ۲۲ ــ ۶۶ (ن): دا په یوهٔ تنگي کې یو کلی دی چې د «تیبر[5]» د سویل په تقریباً ۲ مایلی کې واقع دی.

---

[2] - Zura
[3] - Peshikas
[4] - Rafak Kotal
[5] - Teber

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

* **تغان گذر**: تاغان: ۵۸ – ۳۶، ۵۷ – ۶۷ (ن): دا د «آمو دریا» پر غاړه د تاشقرغان د شمال ختیځ په تقریباً ۲۰ مایلۍ کې یو کلی دی.
تغان: یا: طاغن: ۱ – ۳۷ ، ۳۹ – ۶۶ (ن): دا د بلخ – کلف پر لارې یو کلی دی. ارسریان دي. (پیکاک) *اوسنۍ نقشې د تغان اریغ نوم ښیي.*
تغان: دا د «قسه / کسه ارسریانو» یوه کوچنۍ فرعي ځانګه ده چې د هژده نهر په ولسوالۍ کې ژوند کوي. (پیکاک)
تغان: ۳ – ۳۷ ، ۴ – ۶۶ (ن): دا د آقچې د شمال لویدیځ په ۱۱ مایلۍ کې او له «المالیق» څخه ۴ مایله لیرې یو کلی دی. دا کلی د تغان تورکمنانو ۲۰ کورونه لري؛ د بومي پلټونکو د معلومات له مخې چې دلته د تغان تورکمنانو ۲۰ کورونه دي، خو د میتلند د لیست پر بنسټ دلته ۲۰۰ کورنۍ دي. (اې. بي. سي.)
تغن چي: ۲۴- ۳۶، ۵۵ – ۶۶ (ج): دا د «رودِ بندِ امیر» پر ښۍ غاړه یو کلی دی چې د «پیکام دَرې» په علاقه دارۍ کې واقع او د وزبیکانو ۱۶ کورنۍ په کې استوګنې دي. (میتلند) *دا کلی د بوینقرې (شولګرې – ژ) د شمال ختیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې موقعیت لري.*
* **تاغیر پته**: ۹ – ۳۷، ۱۶ – ۶۷ (ن): دا د (آمو دریا[6]) پرغاړه د «هزاره توغای» د سویل ختیځ په تقریباً ۵ مایلۍ یو کلی دی.
* **تغاو بای**:۴۲ – ۳۵، ۳ – ۶۶ (ن): دا د کوکچې د سیند پرغاړه د «زید ناظر[7]» د شمال لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **تـه – ی – قول**: ۳۱ – ۳۵، ۳۱ – ۶۴ (ن): دا د (سِتَـل[8]) د لویدیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې او د المار له سیند څخه ۱ مایل لیرې یو کلی دی.
تاه – ی – شهر: ۴۲ – ۳۵، ۱۷ – ۶۷: دا د پینځو کورنیو یو کوچنی کلی دی چې د صوف په درکې، له «کمچ» څخه ۴/۱ ۲ مایله پورته واقع دی او ویل کیږي دا ځای د لرغونو مهالونو د کوم ښار تأریخي ځای دی. د کلي شاوخوا کې له خښتو د جوړو سویو بیلابیلو ودانیو پاتې شوني له ورایه ښکاري. دا ښار د «شهر چنګیز[9]» په نوم یادیدۀ.
تاه مورک: تیمورک: ۴۵ – ۳۶، ۳۵ – ۶۶ (ن): دا د بلخ په دښتې کې یو کلی دی او ویل سوي چې د پټهانانو ۳۰۰ کورنۍ په کې استوګنې دي. (میتلند)
دغه (تاه مورک) ښایي هماغه نوم وي چې میتلند د (تیمورک) په نوم ثبت کړی دی. *اوسنۍ نقشې د تیمورک نوم ښیي.*
* **تیغال**: ۳۴ – ۳۵، ۳۵ – ۶۴ (ن): دا د (دریای یخک) پر غاړه د «سِتَـل» د شمال ختیځ په تقریباً ۷ مایلۍ کې یو کلی دی.
تی – ی- مزار: ۲۷ – ۳۵، ۲۶ – ۶۶ (ن): دا د (دریای دلدل[10]) پر غاړه د (سد لار[11]) د لویدیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **ته- ی – جام**: ۵۲ – ۳۵ ، ۳۱ – ۶۴ (ن): دا د «خدایمت» د لویدیځ په ۴ مایلۍ کې او له میمنې څخه تر قیصار پورې د تللې لارې د شمال په ۱ مایلۍ کې واقع یو کلی دی.
* **تي – ی – خاچ**: ۱۶ – ۳۵، ۱۹ – ۶۶ (ن): دا د (دریای – ی – بندِ امیر) پر غاړه د «ګندا جي[12]» د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې یو کلی دی.
ته – ی- کـُندي: تای کندي: لوړوالی: ۶۶۹۰ فیټه. دا د« زر سنګ دري[13]» یو کوچنۍ علاقه ده. (وګورئ: شپږم ټوک)
تیلان: ۳۲ – ۳۵، ۴۷ – ۶۴ (ن): دا یو کلی دی چې د تیلان یا د «سل دري[14]» په تنګي کې د میمنې د سویل په ۳۶ مایلۍ کې واقع دی. دې کلي کې د وزبیکانو او فیروزکوهیانو ۱۰۰ کورونه دي. له دې ځایه د یوې لیوا لپاره د اړتیا وړ توکې چې د یوې یا دوه وو ورځو لپاره یې بسنه وکړي تر لاسه کیدای سي. له ژمي پرته نورو وختونو کې واښـۀ پریمانه دي. (اې. بي. سي.)

---

[6] - Amu Daria
[7] - Zaydnazir
[8] - Setal
[9] - Shahr -i- Changiz
[10] - Daria i- Duldul
[11] - Sadlar
[12] -Gandaji
[13] - Zarsang Dara
[14] - Dara Sel

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د تیلان د تنګي په هکله د لا نورو معلوماتو او شرحي لپاره وګورئ د میمني (سیند). *اوسنی نقشي دا نوم د تلان په ډول ښیي.*
تای سوار: ـ ۳۶ ، ـ ۶۵: دا د سرپل د سیند پر کیڼي غاړي یو کوچنی کلی دی چې د سر پل له ښاره ۹ مایله کښته واقع دی. (اي. بي. سي.)
* **تاجیک ـ و- ایلتون**: ۲۰ ـ ۳۶، ۵۵ ـ ۶۶ (ن): دا د بلخ سیند ته نیږدې یو کلی دی چې د بوینقري (شولګري ـ ژ) د ختیځ په تقریباً ۳ مایلی کې موقعیت لري.
تاجیک ها: دا د یوۀ نژاد نوم دی چې د افغانستان په هر ګوټ کې ژوند کوي. د وګړو په هکله د میتلند د جدلونو له مخې، په ۱۸۸۶ز کال کې په افغان تورکستان کې ټولټال ۸۰۰۰ تاجیک کورنۍ وې چې په لاندې ځایونو کې استوګنې دي:

ولسوالی	د کورنیو شمیر	ولسوالی	د کورنیو شمیر
سیغان	۶۰۰ کورنۍ	د بلخ آب ټولې سیمې	۲۰۰ کورنۍ
کهمرد	۳۹۰ کورنۍ	د بندِ امیر ټولې سیمې	۱۲۵۰ کورنۍ
خرم	۲۰۰ کورنۍ	هژده نهر	۲۰۰ کورنۍ
سر باغ	۲۱۰ کورنۍ	سنګچارک	۵۰۰ کورنۍ
ایبک	۶۰۰ کورنۍ	سر پل	۲۴۰۰ کورنۍ
تاشقرغان	۱۵۲۰ کورنۍ		

د تاجیکانو په هکله د بشپړ شرحي لپاره وګورئ پینځم ټوک
* **تاج قلعه**: ۵۳ ـ ۳۵، ۳۱ ـ ۶۵ (ن): دا د قورچي د لویدیځ په تقریباً ۴ مایلی کې بلچراغ ته د تللي لارې په اوږدو کې یو کلی دی.
قلعۀ (تک): ۴۱ ـ ۳۵، ۵ ـ ۶۶ (ن): دا د سرپل په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې د کچان په تنګي کې واقع دی او د شاهي هزاره ګانو ۵۰ کورونه لري. (اي. بي. سي.)
تـــکه بلوچ: ۵۳- ۳۵، ۲۱ ـ ۶۵ (ج): دا یو تنګ، ډبرین منځګردی دی چې د آق کپرک ـ پلِ بابه زنګي د لارې شمال کې غرونه سوري کوي، او د قرچي د لویدیځ په ۲/۱ ۹ مایلي کې له ننوتځ یا مدخل څخه ئې تیریږي. د آس د سپرلۍ یوه لاره له دې ځایه «درزآب» ته تللې ده؛ دا د هغو خلکو لپاره عادي لاره ده چې له بلچراغ څخه تر «درزآب» او برعکس پورې تګ راتګ کوي. (میتلند)
تکانه: ۵۷ ـ ۳۵، ۵۰ ـ ۶۵ (ج): دا د میرزا ولنګ په تنګي کې یو کلی دی چې د وزبیکانو ۲۰ کورونه لري. د دې کلي خلک په اصل کې د «یکه ولنګ تکانه هزاره ګان» ول خو اوس ځانونه وزبیکان ګڼي. (میتلند) افغان ګزیتر *په دې نامۀ یو کوټل د سرپل د سویل لویدیځ په ۳۰ مایلۍ کې ښیي.*
* **تکه توزي** : ۴ ـ ۳۶، ۴۰ ـ ۶۴ (ن): دا د میمني د سیند پر غاوه د اور تیپي د سویل په ۹ مایلۍ کې یو کلی دی.
تکتو: ۳ ـ ۳۶، ۳ ـ ۶۶ (ن): دا د غونډیو د سرځوړو ډډو یو اوږد خط الرأس دی چې له سویل لویدیځه مخ پر شمال ختیځ ځغلي او له منځه ئې د استراب سیند (آق دره) د سرپل پر لور بهیږي. دغه تشه د (دره سلطان ابراهیم ادهم) په نامۀ پیژندل کیږي چې هیڅ کومه ستونزه نۀ پیښوي. د خط الرأس په شمال ختیځې منتهی الیه کې د «لته بند کوټل» دی. (اي. بي. سي.)
تکزار: ۳۸ ـ ۳۶، ۴۳ ـ ۶۷ (ن): لوړوالی: ۶۷۰۰ فیټه. دا د تقریباً نـۀ لاسرسی یا یعتذر الوصول ګړنګونو یو کربښه ده چې په ختیځ لوري کې د تاشقرغان د تنګي جناح جوړوي. تالبوت د تکزار لوړې څوکې ته ختلی دی چې د دښتې له سطحې څخه ۵۰۰۰ فیټه لوړه ده. له سیات (صیاد ـ ژ) څخه یوه لاره د همدغو ګړنګونو له سره تاشقرغان ته تللې ده. (اي. بي. سي.)
تکزار: ـ ۳۵، ـ ۶۷: دا یو کوټل دی چې میتلند یاد کړی او وایي چې چې د «دندان شکن»[15] د ختیځ په تقریباً ۲۰ مایلۍ کې د اوب یللوونکي په هغۀ ټکي کې واقع دی چې د بامیان کربښه د صوف د دري له ولسوالۍ څخه سویل لور ته تاوییږي. (میتلند)
له برني کهمرد څخه تر ولیشان پورې لاره له همدې کوټل څخه تیریږي.
تاقچي: ۵۲ ـ ۳۵، ۱۴ ـ ۶۶ (ن): دا د سنګچارک په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې په «لنګر دره» کې د سوزمه قلعې سویل کې واقع دی. (اي. بي. سي) دا کلی د توکزر د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۵ مایلۍ کې واقع دی.

[15] - Dandan Shikan دا د ولیشان د تنګي په سر کې د دندان شکن کوټل دی. وګورئ : پینځم ټوک. (لیکوال)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

* **تخته گرد**: تخاجرد: ۸ ــ ۳۵، ۱۱ ــ ۶۶ (ن): دا د «سیاه دِه[16]» په سویل لویدیځ کې په یوۀ تنګي کې یو کلی دی.
تخره: تخاره: ــ ۳۵، ــ ۶۵: دا په ګرزیوان کې یو کلی دی چې د آق شیخ وزبیکانو ۳۰ کورونه لری. دا کلی په «یخ دري» کې له «دِه میران» څخه ۲ مایله پورته واقع دی. (اې. بي.سي.)
* **تخ بندر**: ۸ ــ ۳۵، ۲۴ ــ ۶۴ (ن): دا د (درۀ دیهي) د یوې ځانګې پر غاړې د «حوض تـُف[17]» د شمال په تقریباً ۹ مایلۍ کې یو کلی دی.
تخمانه: ــ ۳۶، ــ ۶۶ : دا د سنګچارک په علاقه داری سوزمه قلعه کې یو کلی دی. دلته د وزبیکانو ۵۰ کورونه دي. (اې. بي.سي.)
* **تخره**: ۴۳ ــ ۳۵، ۲۰ ــ ۶۵ (ن): دا د (دریای تخره[18]) پر غاړې اود «دِه میران» د سویل ختیځ په ۳ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **تخشي**: ۱۴ ــ ۳۵، ۲۹ ــ ۶۶ (ن): دا د «دریای تخشي[19]» پر غاړې یو کلی دی چې د «دهانِ زواج[20]» د سویل ختیځ په تقریباً ۱۲ مایلۍ کې واقع دی.
تخته پل: ۴۴ ــ ۳۶، ۱ ــ ۶۷ (ن): دا یو وخت د مزار شریف شیرپور وو. په پام کې ول چې دا به په دیوالونو کې راتاو یو ښار ګوټی وي خو په ۱۸۸۶ز کال کې دلته چا ژوند نـۀ کاوۀ، دلته یوازې سرتیري ول او هغوی هم په تدریج سره مزار ته راوستل سول. کله چې په ۱۸۴۰ز کال کې د بخارا امیر، نصیرالله، بلخ ونیو او د وروستي ځل لپاره ئـې وران ویجاړ کړ، تخته پُل لومړنی ځای وو چې د محمد افضل خان له پلوه د حکومت د مقر په توګه ومنل سو خو په دې پسې مزار شریف غوره وبلل سو.
ګریسباخ په ۱۸۸۹ز کال کې دغـۀ ځای ته راغلی وو او له دې سیمې څخه د هغـۀ د شرحې لاندې تلخیص یا لنډیز وړاندې کیږي: -
تر ټول تخته پل دوه مدافعوي کرښې او یو خندق را تاو دی. یوه کوچنۍ مربع ډوله کلا چې بالا حصار نومیږي د دې ځای د شمالي مخ د باندنۍ مدافعوي کرښې یوه برخه جوړوي. د مدافعې منځنۍ کرښه چې اساسي حصار جوړوي، یوه مربع ده چې اړخونه ئـې په اوسط ډول ۲۷۰۰ فیټه په اوږدوالـۀ کې دي او د افغان حصارونو یا استحکامي کلاګانو په ډول جوړ سوی دی. دیوالونه ئـې له خښتو جوړ دي او خښتې تر لمر لاندې وچې سوې دي، چې په بیخ کې له تقریباً ۹ تر ۱۰ فیټو پریږوالی او نیږدې ۱۵ فیټه لوړوالی لري. دروازې ئـې چې څلور دي، هره یوه ئـې پر هر مخ کې او ټولې په یوۀ ډول جوړې سوې دي او د هرې دروازې په هرې ډډې کې تیرکښې لرونکي برجونه جوړ سوي دي ؛ له لرګیو جوړې دروازې ئـې په بد ډول جوړې سوې دي. له پاسه ئـې یو ډول پخ شکله قوسونه جوړ سوي دي چې په جوړښت کې د دیوال له عام جوړښت سره یو دي خو لږ کاږۀ دي. باندنۍ مدافعوي کرښه کې یو خاورینسپر یا خاکریز دی چې ښایي په لومړیو کې له ۱۰ تر ۱۲ فیټو لوړ وو، مخې ته ئـې د ۲۰ ــ ۲۳ فیټو په ارتوالي او د ۱۰ فیټو په ژوروالي یو خندق درلود او تیر کښونه ورته ورکړل سوي ول. بالاحصار په خپله یوه کوچنۍ مربع ډوله کلا ده چې عادي افغان کلیواله ښه لري چې دننه مخ ئـې د اساسي کلا له کرښو سره یوه زاویه جوړوي. دا د مدافعې د باندنۍ کرښې یوه برخه جوړوي او تر ټولې کلا یو خندق راتاو دی. دلته ننوتل یوازې د دننه مخ له لارې د یوې دروازې له لارې کیدای سي، دا دروازه هم د تخته پل د څلورو دروازو په شان جوړښت لري خو د عمومي دروازو په شان خپلې مخې ته قوس نـۀ لري. پوښل سوي کوچني مورچلونه جناحي مدافعه تشکیلوي. که بالا حصار ونیول سي ښارګوټی باید سقوط وکړي؛ د ښارګوټي په عمومي دیوال کې له لرګیو جوړه یوه دروازه ده چې مدافعه نـۀ لري او مخامخ د بالاحصار دروازې ته ده او د دې تر څنګ د بالاحصار او د عمومي دیوال تر منځ ځمکه هم له ختو جوړ یوۀ کلي نیولې ده، چې د لا نورو عملیاتو لپاره ښه بنسټ جوړولای سي. د دښمن د ډزو او اور پر وړاندې د حصار د باندني مخ د مدافعې لپاره هیڅ هڅه نـۀ ده سوې. همدا خبره د اساسي دیوال په هکله هم صدق کوي. ښارګوټی په خپله تر ډیره وران ویجاړ دی. د تورکستان په دې برخې کې ګنبدۍ له شګلنو ختو جوړیږي او اکثراً بیرته رالویږي چې په ندرت سره بیرته له سره رغاول کیږي. د استوګنځایونو او ورانو ویجاړو په موړونو کې څلور اساسي لارې تیرې سوي دي. کوچنی بازار د ښارګوټي مرکز ته نیږدې دوه سړکونه تشکیلوي چې ورته نیږدې ئـې د دیوان دفتر او د سردار محمد افضل خان حرم سرای واقع دی. دا ځایونه اوس نړیدلي دي. د توپچي کرښې د بلخ د دروازې دننه او د ښار په هر ګوټ کې په بیلابیلو کرښو کې ځای پر ځای دي. له اساسي دیوال سره موازي دننه یو سړک تللی دی. پخوا په تخته پل کې لس زره سرتیري ځای پر ځای ول خو اوس (۱۸۸۹ز کال کې) دې ښار کې ۱۰۰ تنه خاصه داران

[16] - Siahdeh
[17] - Hawz -i -Tuf
[18] - Daria -i- Takhra
[19] - Daria- i- Takhshi
[20] - Dahan -i -Zoaj

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې نوی تشکیل سوی ځواک دی او د صد باشي تر بولنې لاندې دی ځای پر ځای دی. سویلي مخ ته نیږدې او په سویل لویدیځ ګوټ یا زاویې کې کلي او د باغونو دیوالانو لږ و ډیر بالاحصار ته رانیږدې سوي دي. سویل لویدیځې زاویې ته نیږدې چهل غازي دی چې ۲۰۰۰ یارډه لیرې دی خو ختیځې ډډې کې څو باغونه او څو کورونه او یو زیارت دی چې د باندنۍ مدافعې کرښې ته له ۸۰ تر ۱۰۰ یارډو رانیږدې سوي دي او قسماً پر دې کرښې باندې مسلط دي.
راپور ورکړل سوی چې د ګریسباخ د لیدلو له نیټې وروسته دا حصار ونړول سو او مواد ئې دهدادي ته ولیږدول سول. (ګریسباخ، آی. بي. سي.)
تختي: توخته: ـ ۳۶، ـ ۶۶: دا مزار شریف د سویل لویدیځ په ۱۱ مایلۍ کې یو کلی دی. دلته د عربانو ۲۵ کورنۍ اوسیږي. (پیکاک) *اوسنۍ نقشې دا نوم د توخته په ډول په ۳۹ ـ ۳۶، ۵۵ ـ ۶۶ (ن) کې ښیي.*
تختِ خان: ۲۸ ـ ۳۶، ۱۵ ـ ۶۷ (ج): لوړوالی: ۸۱۲۵ فیټه. دا د شادیانو په سویل ختیځ کې د ګرنګونو پر لوړو باندې یو ځای دی. دې ځای ته ختل له شادیانو څخه څلور مایله لیرې د یوې ستوغې، مارپیچې لارې له طریقه د غرونو دډبرو په منځ کې پیل کیږي، لاره په نسبتاً تنګو او سختو ناهموارو ځایونو کې تیریږي خو د باروړونکو څارویو د تګ لپاره عملي ده.
د یوۀ مایل مزل په پای کې څوک تقریباً د غرونو څوکې او څپاندې سیمې ته رسیږي او د هغې د ستري لوړې سطحې مخه جوړوي چې ورننوتلې یو. دلته د (کوزه شکن) « د مات منګي» د اوبو چینه ده چې له شادیانو څخه ۲۸۲۵ فیټه لوړ راپورته کیږي. د ختلو د لارې په دوام تختِ خان له نیم مایل مزل وروسته رسیږي چې له شادیانو ۲/۱ ۵ مایله لیرې دی. د لارې په اوږدو کې دلته او هلته د اوبو چینې سته چې اکثراً د نورو ځایونو په شان خلکو په څاه بدلې کړې او ګرد چاپیره ئې کوچنۍ ډبرې راټولې کړې دي. دا چینه له ۶ فیټو ډیرې اوبـۀ لري او اوبـۀ ئې دومره ډیرې دي چې له ژیو ئې بهیږي. دا ځای د لوړې سطحې پرمخ په مناسب ځای کې دی. سیمه ټوله څپانده او یو ډول یا یکنواخته ده. شک نـۀ سته چې په پسرلي کې دلته ښـۀ واښـۀ وي چې ښایي په ښـۀ کال کې د مې د میاشتې تر پای او یا د جون تر پای پورې به موجود وي. د اوبو دا دواړه چینې کولای سي د لوی ځواک لپاره پریمانه اوبـۀ برابرې کړي. له چشمـۀ کوزه شکن څخه په تللو کیږ لاسته یوه لاره د یوې تشې په اوږدو کې چې د تختِ خان اوبـۀ په کې راټولیږي کوزه سوې او مخ پر لویدیځ تللې ده، له دې سره موازي او د ګرنګونو تر شا د ارغایلي کوتل لاره ده چې دا لاره ورسره تقاطع مومي. دا لاره بیا د شادیانو کاسې ته کوزه سوې ده. دا لاره چې ښه په نښه سوې ده د درندو وسلو د لیږد لپاره عملي او «بوکه مزار[21]» ته رسیږي؛ بوکه مزار یوه همواره کاسه ده چې په پای کې ئې د نیزار د اوبو یوه چینه ده او له تخت خان څخه ۴/۱ ۲ مایله لیرې ده. (میتلند) د تخت خان کلي د شوربولاق د ختیځ په تقریباً ۱۵ مایلۍ کې موقعیت لري.
تختِ میرزا: ۵۷ ـ ۳۵، ۵۴ ـ ۶۵ (ن): لوړوالی: ۹۲۸۲ فیټه. دا یو کوتل دی چې په همدې نامـۀ غرنۍ لړۍ له پاسه واقع او د استراب دره او د میرزا ولنګ کلی سره نښلوي. ویل کیږي هغه مسافرین چې له مزارشریف څخه د سوزمه قلعه له لارې جیرغان او تختِ میرزا تر میرزا ولنګ پورې ځي د دې پرځای چې د سرپل له منځه د سوزمه قلعـۀ ګردۍ لاره ووهي له همدې لارې کار اخلي. (ای. بي. سي.) *اوسنۍ نقشې دا نوم د کوۀ تخت میرزا په ډول ښیي.*

تختِ رُستم

: ۱۵ ـ ۳۶، ۰ ـ ۶۸ : دا د ایبکو د لویدیځ په دوه مایلۍ کې یو په زړۀ پورې ځای دی، دلته یو شمیر په زړه پورې تأریخي پاتې شوني دي. میتلند او تالبوت دواړه دې ځای ته په ۱۸۸۶ز کال کې ورغلي ول؛ میتلند له دې ځایه دا شرحه وړاندې کوي: -
"مخامخ په هاغه کوچني غرۀ کې چې تخت رستم واقع دی یو شمیر سمځو ته د ننوتلو لارې دي. خلک په ژمي کې په دغو سمځو کې ژوند کوي، تالبوت چې دلته لومړی راغلی وو دغو سمځو کې ئې خلک لیدلي ول؛ دا سمځې اوس تشې دي. له همدې ځایه مو د دغو سمځو پلټنه پیل کړه. سمځو ته د ننوتلو په ځایونو کې کوم د پام وړ شی نـۀ سته موږ یوازې یو شمیر توري سوې حفرې وموندلې. موږ ته د تعجب ځای دا وو چې موږ د ۴۸ په ۲۱ فیټو لویوالي یوې مقوسې حجرې کې ودریدلو. له دې ځایه یوه تنګه لاره تللې؛ تالبوت له همدې لارې ورتیر سو او ما لومړنۍ حجره وپلټله، زه دلته په پلټنه بوخت وم چې د حیرت او تعجب یوه چیغه د تالبوت له خولې راووتله؛ زه په منډه ورغلم چې ګورم تالبوت په یوې لوړې کوټې کې چې له ۳۷ فیټ مربع ډیره وه ولاړ دی او د ۳۸ فیټو په لوړوالي د ګنبدۍ یو چت لري. دې کوټې ته رونا له یوې کړکۍ راځي، دې کړکۍ ته ئې غر سوری کړی دی. د دې حجرې په هرې ډډې کې یو قوسي ژور رپک یا طاقچه ده او د هر رپک له پاسه یوه ستنه په ډبره کې کیندل سوې ده. موږ د دواړو کوټو اندازه تر خپلې وسعې واخیستله او دباندې راووتلو او بیا بلې سمځې ته ورغلو. دا یو دوه لارې لرونکې سمځه ده چې د ډبرې مخې سره موازي ده؛ د منځنې یا د دننه دهلیز غولی د باندني دهلیز له غولي څخه ۳ فیټه کښته دی. دا له یو بل سره د ۱۳ کړکیو له لارې وصل دي په ډبرې

[21] - Boka Mazar

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کې لوی یوی سوري کیندل سوي دي او په پای کې یو متقاطع دهلیز لري. له وروستي معبر څخه یوه دروازه د لومړني دهلیز په دوام یوې کوچنۍ حجرې ته تللې ده او بله ئـې د غرهٔ منځ ته خو دا ځای بیا بند دی. دا سمڅه ښایي یوه «ویهاره[22] » وه. ورهاخوا ئـې دریمه سمڅه ده چې دایروي ده او ګنبدي چت لري. دا سمڅه یا حجره د لومړنۍ حجرې په شان دومره لویه نـهٔ ده خو بام ئـې د نیلوفر د ګل د پاڼو په پیچلي ترسیم پوښلي دی چې د بام پر مخ په ډبرې کې کیندل سوی دی. دې حجرې ته رڼا د دوازې د سر د کړکۍ له لارې راځي. دلته ټولټال ۵ سمڅې دي، دا سمڅې مو چې شرحه کړلې په مرکز کې وې.

د نورو حجرو ښي لاس ته که څوک مخامخ ودریږي ګوري چې درې نورې کوچنۍ حجرې سته چې په لنډو دهلیزونو سره وصل دي. د دغو دریو حجرو په منځ کې منځنۍ حجره ئـې ګنبدي چت لري. پینځمه سمڅه کوچنۍ ده او په زړه پورې نـهٔ ده. دا سمڅې د پام وړ دي. دا سمڅې له (جاه جمشید) پرته تر هغو ټولو نوورو سمڅو چې موږ په بامیانو کې ولیدلې ډیرې لویې دي. دا سمڅې په دقت او ځیر قطع یا برش او خلاصې سوې دي. "

" د سمڅو له لیدلو وروسته موږ د تخت رستم پر کوچنې غرهٔ وختلو او سر ته ئـې نیږدې پر یوهٔ ډبرین غولي باندې راکوز سوو او له همدې ځایه څو دروازې کښته دننه دغرهٔ منځ ته تللې دي. لومړنۍ سمڅه مو چې ولیدله یوه عادي سمڅه ده چې کیدای سي د کوم لارښوونکي یا خادم د استوګنې ځای وي. پاتې نورې ئـې اوږدو، ارتو خو نسبتاً ټیټو دهلیزونو ته چې په ډبره کې کیندل سوي دي لارې ورکوي چې هر یو ئـې یوهٔ سرخلاصې دالان ته چې آزاده هوا ورڅخه راځي لاره ورکوي. دا دالان یا معبر په حقیقت کې د ۲۰ فیټو په ژوروالي په ډبره کې یو کیندل سوی خندق دی او دومره ارت دی چې دوه تنه څنګ پرڅنګ په کې تللای سي. هغه ستره ډبره چې دا معبر په کې کیندل سوی په دقت سره د ګنبدۍ په ډول قطع سوې ده. که په دقت ئـې ووایم دا یوهٔ قطع سوي مخروط ته ورته دی چې پورتنۍ ژۍ ئـې سولول سوي وي. له پلن سر څخه ئـې مکعبي کتله لیرې سوې او د یوهٔ کوچني کور بڼه ئـې اخیستې چې په پاکۍ او ښکلا خلاص سوی دی. دا یوازې یوه ګنبدي حجره لري او دومره لویه ده چې څوک په کې قائـم یا نیغ دریدلای سي. د دایروي معبر له لارې د کتلې مرکزي ټکي ته ختل په دې ډول کیږي چې په ښوویې ډبرې کې ئـې د پښو ایښودلو لپاره ځایونه یا سوري کیندلي دي چې تر ټولو ټیټ ئـې اوس د تیرو په یوې کواړۍ کې دی. د دې کتلې او د ورچاپیره معبر شکل د تالبوت په خبره داسې ټکي ته اشاره کوي چې دا دې د بودایانو یو لوړ او د مقدسو آثارو د ساتلو ځای وي چې کیدای سي د کوچنۍ حجرې په پاس ځای کې موقعیت ولري. د حجرې د بام شا ته یوه پیاله شکله کښته ننوتلی ځای ښایي له پاسه د سپرې ونې د بیخ له کبله رامنځه سوی وي. سوري یوازې د مرکزي ډبرې په پورتنۍ برخې کې ایستل سوي چې غیر دیني کسان ونـهٔ سي کولای مقدسه آثارو ته لاسرسی ومومي مګر دا چې بودایي مانک ورسره بدرګه وي؛ شک نـهٔ سته چې د ختلو لومړۍ برخې کې به ئـې له پوړۍ یا زینې یا بل ډول شي څخه کار اخیست. مقدسه کړۍ ته د ننوتلو لپاره دا دوه دهلیزونه یا معبرونه د دې لپاره جوړ سوي چې د سترو دیني رسوماتو د تدویر پر مهال په ګڼه ګوڼه کې ولاړ بودایان له یوې لارې ننوځي او له بلې ئـې ووځي. کښتنۍ سمڅې ښایي د صومعې یا دیر په شان د (لاماګانو) د استوګنې لپاره ول، دوه دهلیزونه د دوی د استوګنې ځای وو او ګبندۍ واله حجرې د دوی عبادت ځایونه ول."

له تختِ رستم څخه یوه لاره چې ډیره ښه په نښـه سوې تللې ده او ان تر« قزل تومشوک» [سره غرنۍ څوکه] کوتل پورې د ختلو د نرموالي په لرلو سره د ۲/۱ ۱مایل په اوږدوالي ختلې ده. دا کوتل د هغو لوړو غرونو د یوهٔ مهمیز پر سر واقع دی چې پر شمال ختیځ لور باندې مسلط دي. لاره په آسانۍ سره له ګاو قشلاق څخه راتاویدلای سي. له ایبکو څخه لوړوالی ۵۶۰ فیټه دی، دا لوړوالی له ۵۰ فیټو په استثناء د تخت رستم د غرهٔ له بیخه دی.

د کوتل له سره یوه ښه په نښه سوې لاره له لیرې په سترګو کیږي چې د څپاندې (غرنۍ) سیمې له پاسه تر (چویان چشمه[23]) پورې تللې ده.

له قزل تومشوک څخه د کوتل ترښې لاس پورې د سړي سترګو ته د ټولې درې یو ښـهٔ منظر ورپه سترګو کیږي. غرونه د کوتل په پرتلې ډیر لوړوالی مومي خو څوک په آس سپور پورته ورختلای سي. (میتلند)

* **تختِ زغان**: ۴۴ – ۳۵، ۵۵ – ۶۴ (ن): دا د میمنې د سیند پر غاړه د میمنې د سویل ختیځ په تقریباً ۱۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

تاله: ۲۴ – ۳۵،۱۴ – ۶۸ (ن): لوړوالی ۳۷۴۰ فیټه. دا یوه کوچنۍ کلا ده چې د سرخاب د سیند په کیڼه غاړه کې د تالې د دښتې په مرکز کې له شترجنګل څخه ۱۲ مایله پورته او له دوآبِ میخ زرې څخه ۲/۱ ۲۰ مایله پورته واقع ده.

---

[22] - vihara : یا Vihāra : ویهاره یو سانسکریت لغت دی چې ډیرې معنی ګانې لري خو یوه عامه معنی ئـې د بودایي معبد په معنی ده، په «پالي» متونو کې هم ویهاره راغلې ده چې د استوګنې لپاره د ځای د انتظام، یا د استوګنځي د انتظام په معنی راغلی ده. لکه «نوا ویهاره» چې وروسته «نوبهار» سوی دی. او ان زموږ یو شمیر افغان څیړونکي په دې باور دي چې د «وردک» نوم له «ویهاره دک» څخه راغلی دی. ژ

[23] - Choyan Chashma

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

" د تاله دښته تقریباً ۲/۱ ۳ مایله اوږده ده او مرکز ئـې ۲/۱ ۱ مایل ارت دی چې همواره ده او په کښت او وښو پوښلې ده. تاله کې د علي جم هزاره ګانو ۱۰۰۰ کورنۍ په ۱۵ قشلاقونو کې دي او همدا شان که د دهانِ ایسکار له لارې وربانديې راسئ نو مخې ته مو په لومړیو کې له ختو جوړې دائم استوګنې جونګړې درځي. هر قشلاق تقریباً ۳ رمې او تقریباً ۲۰۰ آسونه او یابوګان او هم یو شمیر کورني څاروي لري. دوی اوښان نـهٔ لري. دا خلک په ژمي کې د تاله په درې کې اوسیږي (دوی فقط همدا اوس راستانـهٔ سوي دي)، دوی له یو شمیر بزګرو پرته نور ټول په دوبي کې د هندوکش لوړو ته ځي او خپلې رمې پیایي. د سرخاب په درې کې ډیره لږ یوازې ۶ انچه واوره کیږي او ډیر ژر ویلي کیږي، قلعـهٔ تاله یوه کوچنۍ له ختو جوړه کلاګی ده چې تقریباً ۳۰ یارد مربع ده او د درې په مرکز کې واقع ده. همدلته په کلا کې د ۳۰ خاصه دارانو یوه ساتندویه ډله سته چې ۷۰ تنه نور خاصه داران ئـې د برفک په کلا کې دی. هغه خاصه داران چې ما ولیدل پنجشیریان ول چې پرتمینې ځیرې او فزیکي جوړښت ئـې درلود. تاله کې ۷ ژرندې دي، ۴ ئـې په دښتې کې او ۳ ئـې په «دره مارغ» (مَرغ) کې دي.
" په درې کې د کمپ لپاره ډیر ښـهٔ ځای سته. سون لرګي ئـې پریمانه دي؛ همدا سې اوبـهٔ ئـې چې له ویالو یا له سینده دي. واښـهٔ او اوښ څر ئـې ډیر دي. له دې ځایه د اړتیا وړ توکي په ټاکلي اندازې ترلاسه کیدای سي. اوس چې (د ۱۸۸۶ز کال د سپتمبر میاشت ده) واښـهٔ لو سوي دي او د ژمي د اړتیاوو لپاره زیرمه سوي دي. (پیکاک)
له سینده پورې غاړه اوښتل د یوهٔ لرګین پلـهٔ له طریقه کیږي چې د تالې له کلا لږ پورته له مرغ درې څخه د راغلي سیند د یوځای کیدنې په ټکي کې واقع دی.
تلاش خان: ۵۵ ــ ۳۵، ۴۸ ــ ۶۴ : دا د میمنې ختیځ کې د لوخو، ستوغ ــ ډډو، کوچنیو غرونو د کتلې باندنی خط الرأس دی. دا خط الرأس له تقریباً نیم مایل واټن څخه د ښار پر شمال ختیځ دیوال باندې په بشپړ ډول مسلط دی. (وګورئ ۴۰۲ پاڼه.)
* **تالِ عاشقان**: ۳۶ ــ ۳۵، ۵۱ ــ ۶۶ (ن): دا دریای بند امیر پر غاړه د «مخشان[24]» د لویدیځ په تقریباً ۱۱ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **تلي ګک**: ۱ ـ ۳۷، ۴۵ ــ ۶۶ (ن): دا د «قرچي ګک» د سویل لویدیځ په تقریباً ۱ مایلۍ کې او د بلخ د شمال په تقریباً ۳۰ مایلۍ کې یو کلی دی.
تلخان: ۲۴ ــ ۳۵، ۴۰ ــ ۶۸ : دا د دوب د ولسوالۍ په ختیځ کې یو سیند دی چې د «چهار دَر» له لویدیځ څخه راکوزیږي او له شمال لورې له «سَوزَک» او « اَو سفید» سره له سویل لورې یوځای کیږي؛ درې واړه سیندونه د «سیاه مُـنـده» یا «پائـین دِه دره» سیند جوړوي. د چاریکارو ــ ایبک لاره د «اِو سفید» د سیند له ښۍ غاړې څخه راځي او مخ پر تلخان ورځي چې له «اَو سفید» سره د یوځای کیدلو له ټکي له پورته دی.
د ۱۸۸۶ز کال د اکتوبر تر میاشتې پورې د تلخان د سیند له پاسه کوم پل نـهٔ وو تیر سوی خو سیند ته د نیږدې کیدلو لومړني کارونه او د پلـهٔ تکیه ځایونه چې له ډبرو او لرګینو میخونو جوړو سوی وو چمتو ول. افغان سرحدي تحدید کمیسیون د یوهٔ مؤقت لرګین پلـهٔ له لارې چې د سیندونو د الحاق له ځایه ۳۵۰ یارډه پورته وو تیر سو؛ د سیند له یوې غاړې تر بلې غاړې پورې ارتوالی ۳۰ فیټه وو خو د سیلابونو پر مهال دا ارتوالی دوه ځله نور ډیر سي. د سیند ژوروالی له ۱ تر ۳ فیټو پورې ځای ځای توپیر کوي؛ د سیند بستر ډبرین دی، د اوبو د بهیدلو چټکوالی توند دی.
له «چهار در» تقریباً ۱۲ مایله پورته د «دِهٔ شیر» استوګنځی دی چې د «نیک پای/ نیک پی هزاره ګانو[25]» ۷۰ کورونه لری. استوګن وګړي ټول ژمی دلته وي. له همدې ځایه پورته د سیند پر غاړه بل د استوګنې ځای نـهٔ سته. (دروموند)
اوسنۍ نقشې دا نوم د تلخیان په ډول ښیي.
تال قشلاق: ۱۷ ــ ۳۶، ۵۹ ــ ۶۸ (ج): دا د تاشقرغان د سیند په کینې غاړې کې له ایبکو کښته د استوګنې یوه سیمه ده. (میتلند)
تَـمَـک دره: ۸ ــ ۳۶، ۰ ــ ۶۷ : دا د «آق کپروک» په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې د کوزنې «کیشندې» د تنګي شمالي مدخل ته نیږدې واقع دی. (صاحبداد خان)
تمچاه: تمچک: ۳ ــ ۳۶، ۲۷ ــ ۶۴ (ن): دا له «قصبه قلعه» څخه لږ پورته یو «شور» دی چې له قیصار سره یو ځای کیږي. له دې ځایه یوه لاره «هنک» ته تللې ده، «هنک» په «بل پرانداز» کې یوه څرګنده لوړه ده. (پیکاک) *اوسنۍ نقشې دا نوم د «شور تمچق» په ډول ښیي.*
* **تند لیز**: ۳۱ ــ ۳۶ ، ۱۵ ــ ۶۷ (ن): دا یو غر دی چې ۲۲۳۰ متره لوړ دی او د شادیانو د شمال ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې واقع دی.

[24] - Makhshan
[25] - Nek Pai Hazaras

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تندورک: ۲۶ ــ ۳۶، ۶ ــ ۶۷ (ن): دا مزارشریف د «چهارکنت» د څلورو استوګن - سیمو له منځه یوه سیمه ده. (وګورئ ۱۶۲ پاڼه.)
د تندورک کلی په یوۀ ژور تش ځای کي او یا ورته نیږدي واقع دی؛ دا ځای مخ پر شمال لویدیځ ځغلیدلی دی چي په «میدانِ پای کوتل» کي له «یکه تل» څخه ــ تر ــ «پته کسر» پوري لاره چي د صوف له دري او مزار شریف څخه راغلي ورڅخه تیریږي.
په تندورک کي څو دري سره یو ځای کیږي دا دري له کلي څخه لویدیځ لور ته تللي بیا له «رحمت آباد» څخه تیري سوي او د بند امیر تر دري پوري تللي دي. دغو درو سره «رحمت آباد» د «شوربولاق» د تنګي له لاري یو ځای کیږي چي د شادیانو د کاسي د معکوسو ډډو له لوړو راکوز سوی دی. (میتلند) *استوګنځای د شور بولاق د سویل په تقریباً ۸ مایلی کي واقع دی.*
* **تنګِ یعقوب**: ۵۵ـ ۳۵ ، ۱۷ ــ ۶۷ (ن): دا په یوۀ تنګي کي د « قلعه» (؟) د شمال په تقریباً ۱ مایلی کي یو کلی دی.
تنزیل: ۰ ــ ۳۶، ۱۳ ــ ۶۶ (ن): دا د سنګچارک په ولسوالی کي یو کلی دی چي د سَوزمه قلعه د سویل په تقریباً ۶ مایلی کي واقع دی. دا کلی د وزبیکانو ۴۰ کورونه لري. د سوزمه قلعه تګاو دلته د یوۀ مایل په اندازي ارت دی او کرل سوی دی. (اي. بي. سي.) *په دي نامۀ بل کلی ۲ مایله وړاندي شمال کي دی. اوسنی نقشي دا نوم د تنیل په ډول ښیي.*
توګلک: وګورئ: سرخک کمر
* **تره کي**: ۴۴ ــ ۳۶، ۳۴ ــ ۶۶ (ن): دا د بلخ د سیند پر غاړه د امام صاحب د شمال ختیځ په تقریباً ۶ مایلی کي یو کلی دی.
* **تربان**: ۲۶ ــ ۳۵، ۴۵ ــ ۶۶ (ن): دا د بلخ د سیند د یوي څانګي پر غاړي یو کلی دی چي د «دو شاه» د سویل لویدیځ په تقریباً ۳ مایلی کي موقعیت لري.
* **تري کک**: ۲۵ ــ ۳۵، ۵۸ ــ ۶۵ (ن): دا «صالح زي» د سیند پر غاړه د «غـُلـدُري» د سویل ختیځ په تقریباً ۱۲ مایلی کي یو کلی دی.
ترکوچ: وګورئ: جر کوچ: ۳۰ ــ ۳۵، ۳۰ ــ ۶۶ (الف)
ترپیچ: تر پچ: ــ ۳۵، ــ ۶۶: دا د «رودِ بندِ امیر» پر غاړه د «بلخ آب» په ولسوالی کي یو کلی دی. د «مین ګک هزاره ګانو[26]» ۵۰ کورونه په کي دي. (اي. بي. سي.)
تاش بل: وګورئ: بیا سغماس: ۲۹ ــ ۳۶، ۶ ــ ۶۸
* **تاش بولاق**: ۳۳ ــ ۳۵، ۸ ــ ۶۴ (ن) دا یو کلی دی چي د بندِ تورکستان په شمال کي او د قیصار د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۵ مایلی کي واقع دی.

نوربیا

تاش ګذر:

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[26] - Mingak Hazaras

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ